

# د افغان میرمنو وضعیت – په ټول هیواد کې له میرمنو سره د سلا مشورو لنډ راپور

سپتمبر ۲۰۲۳

انځور: د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره/سیدحبیب بیدل

## مخينه

دغه لنډیز په ټول افغانستان کې د ښځو د اوسني وضعیت او لومړیتوبونو په اړه د هغوي نظریې او لیدلوري وړاندې کوي. د ۲۰۲۱ کال په اګست کې پر هیواد د طالبانو له ولکې راهیسې اوسنیو چارواکو له ۵۰ څخه زیات داسې فرمانونه صادر کړي چې په مستقیم ډول د ښځو حقونه او وقار محدودوي.[1] دا روښانه ده چې د افغانستان لپاره د طالبانو لیدلوری د ښځو د حقونو او ښېرازۍ له جوړښتیزو بندیزونو سره په نه جلا کیدونکي ډول تړلی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر د کډوالۍ نړیوال سازمان او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) له ښځو سره ربعوارې سلا مشورې پیل کړې. دغه سلا مشورې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ښځو سولې او امنیت له اجنډا او له دې نړیوالې ژمنې سره په سمون کې دي چې د ناورین په حالاتو کې دې ښځې د پرېکړې کولو په مرکزیت کې قرار ولري.[2] په افغانستان کې چېرې چې ښځې په سیستماتیک ډول له عامه ژوند څخه لرې کړای شوی سلا مشورې د ښځو لپاره یو له هغو کم شمېر فرصتونو څخه ګڼل کېږي د کومو له لارې چې کولای شي خپل لیدلوري بیان کړي او مشرتابه او استازیتوب په ډاګه کړي.

## میتودولوژي

د ۲۰۲۳ کال په جولای میاشت کې د ربعوارو سلا مشورو په لړ کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما په ګډه په **۲۲ ولایتونو**[3] کې له **۵۹۲ افغان میرمنو** سره آنلاین او مخامخ (چېرې چې دغه کار خوندي وو) ګروپي سلا مشورې او انفرادي تیلفوني سروې ګانې ترسره کړې. افغان میرمنو د ۲۰۲۳ کال له اپریل څخه تر جون پورې په دې موده کې د خپلو لومړیتوبونو د نړیوال تعامل په تړاو د نظرونو او د ښځو حقونو د تحقق او هوساینې د ښه والي په اړه معلومات وړاندې کړي. په دغه بهیر کې د کورنیو له ښځینه مشرتابه وو داخلي بېځایه شویو او د کوربه ټولنو له ښځو کلیوالو او ښاري میرمنو وظیفه لرونکو او بې وظیفې ښځو؛ او د عمر، مدني حالت، قومیت او زده کړو د کچې له پلوه له مختلفو میرمنو سره مرکې ترسره شوي دي.

---


[1] د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې د فرمانونو د وخت به اړه وګورئ Feminist Majority Foundation.

[2] د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، یوناما او د کډوالۍ نړیوال سازمان د امنیت شورا له ناستو مخکې په ربعوار ډول د هیواد په د ننه کې له ښځو سره سلا مشورې ترسره کوي. د پخوانیو سلا مشورو په اړه په راپورونو کې د ۲۰۲۳ کال د اپریل، د ۲۰۲۳ کال د جنوري او د ۲۰۲۲ کال د اګست/سپتمبر هغه شامل دي.

[3] کابل، کندهار، بلخ، بامیان، هرات، بدخشان، ننګرهار، بغلان، نیمروز، بادغیس، فراه، هلمند، غور، کاپیسا، لغمان، غزني، جوزجان، خوست، پکتیا، پکتیکا، سمنګان او سرپل ولایتونه.


## کلیدي لومړیتوبونه

د ښـځو **دوه چنـده** احتــمال وو چـې نړیوالــه ټولنــه د اقتصــادي پراختیا یـا بـشري مرسـتو پـه پرتلـه د جنـډر مسـاواتو او د ښـځو حقونـو پـه مسـلو کـې دخیـل وي.





## ذهني روغتیا

پـه سلو کـې نهـه شـپېته ښـځو راپـور ورکـړی چـې **د اضطـراب، انـزوا او خپـګان احساسـات** د اپریـل او جـون ترمنـځ د **پـام وړ خـراب شـوي**، د جنـوري څخـه تـر مـارچ ۲۰۲۳ پـورې راټـول شـوي ارقامـو څخـه لـوړه کچـه.





## نفوذ

د ۲۰۲۳ پـه لومـړۍ نیمایـي کـې د کورنـۍ پـه کچـه د پرېکـړې کولـو **اغیـز پـه چټکـۍ سره کـم** شـوی.





## معیشت

د ۲۰۲۳ پـه جـون کـې، ۸۰ سـلنې میرمنـو یادونـه وکـړه چـې د **عایـد تولیدونکـو فعالیتونـو کـې** د اپریـل پـه میاشـت کـې د ۷۵ سـلنې څخـه **د ښـکیلتیا ورتیـا کمـه شـوې**.





## ټولنیز متحرکات

کورنـۍ **د نارینـه غـړو سره اړیکـې** پـه دوامـداره توګـه **خرابـې شـوې**، میرمنـو سره مشـوره وشـوه چـې دا اړیکـې د جـون پـه میاشـت کـې د اپریـل پـه پرتلـه خرابـې شـوې.




## نړیواله پیژندنه

نـږدې ټولـو ښـځو پـه دې انـد وو چـې د ملګـرو ملتونـو لخـوا **د طالبانـو پـه رسـمیت پیژنـدل بایـد پـه هیـڅ حالـت کـې نـه وي**، یـا دا چـې دا بایـد یـوازې پـه ځینـو شرایطـو کـې د ښـځو حقونـو د ښـه کولـو پـه شرط وي.



## کوم بدلون رامنځ ته شوی – له افغان ښځو سره د یو کلنۍ سلا مشورو په اړه نظریې (د ۲۰۲۲ کال له اګست څخه د ۲۰۲۳ کال تر جولای پورې)

له مختلفو افغان میرمنو سره له یوه کلن سلا مشورو وروسته د هغه څه په اړه چې بدلون یې کړی او کوم څه چې بدلون یې نه دی کړی اصلي ملاحظات په لاندې ډول سره دي.

- **زده کړو ته لاس رسی د ۲۰۲۲ کال د اګست** میاشت راهیسې تر ټولو ستر لومړیتوب ګڼل کېږي. سره له دې چې د ښځو او انجونو د ژوندانه لپاره خورا اړین په ګوته شوی د ښځو په حقونو او اقتصادي شرایطو کې ښه والي ته د دویم لومړیتوب په توګه کتل شوي. ښځې په دوامدار ډول د جنسیتي برابرۍ او د افغانستان د اوږد مهاله پرمختګ د تحقیق په باره کې د ښوونیزو پایلو پر اهمیت ټینګار کوي.
- **د ۲۰۲۲ کال په اګست کې د ښځو د خوندیتوب او امنیت بهتره کول** په ځانګړي توګه د هغو لپاره چې د لوړو زده کړو، رسنیو، سوداګرۍ او بشري حقونو په برخو کې کار کوي – دویم تر ټولو ستر لومړیتوب ګڼل کېده. له هغه وخت راهیسې ښځې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د بر حاله چارواکو د فرمانونو له خوا په نښه شوي،[4] او له تهدید او ځورونې سره مخ شوي. دغه کار په ټولو سکتورونو کې د ښځو ګومارنه راکمه کړېده. په ۲۰۲۳ کې د د رواني روغتیا اندېښنې د دویمې درجې لومړیتوب په څیر د فزیکي سلامتیا له اندېښنو زیاتې شوې. د ښځو رواني روغتیا د پام وړ خرابېدل دوام درلود. په هر دور سلا مشورو کې دغه موضوع د یوې اندېښنې په څېر په دوامداره ډول زیاته شوې.
- **ځرنګه چې اقتصادي او بشري وضعیت د لا زیات خرابېدو په حال** کی دی ښځی تر ډېره پر بنسټیزډول په ژوندي پاتې کېدو تمرکز کړی، سره له دې چې هغوي په ورته ډول د دې یادونه کړې چې لنډ مهاله مرستې نه شي کولای هغه اساسي ستونزې حل کړي چې هیواد یې ورسره مخ دی. د سلا مشورو تمرکز له هغو ښځو څخه چې له نړیوالو فعالینو څخه یې له برحاله چارواکو سره د مهم سیاسي تعامل لپاره د مختلفو لارو چارو د رامنځته کولو غوښتنه کوله، هغو ښځو ته واوښت ځوک چې په سخت ډول د ناورین د اوږدمهاله حل لارو په اره د نړیوال ملاتړ په لټه کې وې، لکه د عاید پیدا کولو فرصتونه.
- د ۲۰۲۳ کال له جنوري راهیسې په تېرو شپږو میاشتو کې **په پرېکړه کولو کی د ښځو نفوذ په ټولو برخو کې لکه د کورنۍ،** خپلوانو، ټولنې، ولایتي او ملي کچه د پام وړ راکم شوی. تر ټولو زیات د کورنۍ په کچې پرېکړه کول راکم شوي چې ښځی د دغه کموالي لامل زیاته بې وزلي، د ښځو کمه مالي ونډه او تشدید شوي د نرواکۍ د جنسیتي نورمونه په ګوته کړې. دوي اوس هم په عامه پرېکړه کولو کې د ځای درلودو غوښتنه کوله.
- په تېر کال کې ښځو په دوامدار توګه په **برحاله چارواکو د بندیزونو او د مستقیمې او غیر مستقیمې مدافعې له لارې** د نړیوالو فشارونو غوښتنه کړې. ښځو همدارنګه له نړیوالو ادارو غوښتنه کړې چې افغان ښځې له طالبانو سره په مذاکراتو کې شاملې کړي په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو په اړه. هغوي په مکرر ډول له نړیوالې ټولنې غوښتې چې د هغوي لپاره داسې فضاوې برابرې کړي چې په مستقیم ډول له برحاله چارواکو سره وګوري او له هغوي سره خپلې اندېښنې مطرح کړي.
- **ښځو د برحاله چارواکو د رسمیت پېژندلو په ضد** اخطار ورکول جاري ساتلي ځکه طالبان په مکرر ډول د ښځو د حقونو د رعایتولو له ژمنو پر شا شوي. هغوي پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې د طالبانو په اړه د دوي د کړنو له مخې قضاوت وکړي نه د دوي د ژمنو له مخې.

## موندنې

> "د خلکو پیغورونه د دې لامل شول چې ښځې له کورونو څخه و نه وځي."- افغان ښځې، جولای ۲۰۲۳

په ربعوارو سلا مشورو کې چې د ۲۰۲۳ کال له اپریل څخه تر جون میاشت پورې موده یې تر پوښښ لاندې نیولې وه افغان میرمنو په ټینګار سره یو ځل بیا د هغو مالي او رواني ستونزو یادونه وکړه له کومو سره چې دوي د طالبانو له خوا د هغوي پر آزادۍ د زیاتیدونکو محدودیتونو د اقتصادي ناورین او د دې په پایله کې د رامنځته شوې بې وزلۍ له امله مخ شوي. د ښځینه سرپرستو کورنیو اوځوانې ښځې په دوامدار ډول د هغو په څېر یادې شوې ځوک چې له ټولو نورو په زیاتو زیانمنیدونکو شرایطو کې دي او پر ښځو او انجونو د اوسنیو محدودیتونو له امله تر ټولو زیاتې اغیزمنې شوې. ښځو زیاتره خپل ژوند داسې تشریح کړی لکه د بندیانو په څېر چې په تیاره کې اوسېږي او راتلونکې ته له کومې هیلې پرته په کورونو کې بندیانې شوې.

[4] د هغو فرمانونو په نمونو کې چې په مستقیم ډول یې د ښځو د کار حق اغیزمن کړی، راتلونکي هغه شامل دي: پر هغو ښځو بندیز چې د نړیوالو نا دولتي ادارو لپاره کار کوي (ډسمبر ۲۰۲۲) او ملګرو ملتونو ته یې تمدید (اپریل ۲۰۲۳)؛ پر سنګارتونونو بندیز (جولای ۲۰۲۳)؛ او کار ځای ته د ښځینه روغتیایي کارمندانو له خوا له محرم سره د تګ شرط (جنوري ۲۰۲۳).

## د محدودیتونو تطبیقول او ټولنیز ښار

د زیاتره ښځو لپاره (۶۲ سلنه) د طالبانو فرمانونه له زیاتېدونکي شدت او له کومې استثناء پرته تطبیق شوي چې خصوصي ډګر ته د لا زیات شاتګ لامل شوي. د فرمانونو تطبیق په ځانګړي ډول په ختیځه سیمه[٥] کې سخت وه چېرې چې ۹۱ سلنه ښځو ویلي چې تطبیق ډېر "سخت او جدي دی (له کومې استثناء پرته تطبیق شوي)"؛ ۸۹ سلنه یې د وخت په تېریدو سره په شدت کې زیاتوالی ملاحظه کړی.

په عامه ځایونو کې د دوارو طالبانو او نورو عادي نارینه وو له خوا ترسره شوې څورونه تهدید او تاوتریخوالی د هغو ښځو لپاره چې له فرمانونو سرغړونکې ګڼل کېږي معمول دي. دغه ټولنیز ښار د اوسنیو چاراوکو له خوا تطبیق شوی وو چې نارینه وګړي تر فشار لاندې راولي ترڅو د هغوي قواعد تطبیق کړي، د مثال په ډول ټکسي چلوونکي د هغو ښځو له ترانسپورت څخه منع کوي څوک چې د طالبانو په غوښتنه حجاب نه مراعاتوي. په خصوصي ډګر کې د تطبیق په ګډون د فرمانونو د پلي کولو لپاره د نارینه وو مسؤول ګڼل د نارینه څواک او کنټرول احساس ژور کړی چې د ۲۰۲۲ کال د مۍ میاشتې فرمان له خوا تقویه شوی چې د کورنۍ نارینه غړي د ښځو د حجاب له فرمان څخه د سرغړونې لپاره مسؤل ګڼي.[٦] په زیاتېدونکي ډول د معمول او سیستماتیک شویو نرواکمنو نورمونو په منځ کې چې د سزا له ویرې سره مل دي، ښځو په یوه خوله ومنله چې هغوي پرته له دې چې دغه احکام مراعات کړي د انتخاب لپاره بله لاره نه لري. په بله وینا د سلا مشورو په هره دوره کې د افغان ښځو او انجونو لپاره د نه رعایتولو بیه زیاتېده.

## د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا

> "د یوې ښځې په څېر، غواړم په یوې داسې ټولنه کې ژوند وکړم چېرې چې د دې آزادي ولرم چې څه وغواړم هغه ووایم، پر خپلو پښو ودرېږم ځان غښتلی کړم چې وکولای شم نورو خلکو ته خدمت وکړم."- افغان ښځې، جولای ۲۰۲۳

د برحاله چاراوکو له خوا محدودیتونو د ښځو لپاره د عواید ود پیدا کولو محدود شمېر فرصتونه پرې ایښي. د محرم د شرط په ګډون د تګ راتګ محدودیتونه، دغه راز څورونې او د خوندیتوب اندېښنې د استخدام فرصتونه تړلي آن په هغو سکتورونو کې چېرې چې ښځې لا تراوسه پورې هم د کار کولو اجازه لري. سره له دې چې ټولې افغان میرمنې له دغو خنډونو سره مخ شوي خو د کلیوالي او ښاري ښځود ژوند ترمنځ ځینې توپیرونه روښانه وو. کلیوالي ښځې زیاتره د کرنې او مالدارۍ او دغه راز د ورځنۍ مزدورۍ په برخه کې کار کوي. دغه سکتورونه په عین ډول د محدودیتونو له خوا نه دي په نښه شوي لکه څرنګه چې نور هغه په نښه شوي پر کومو چې ښاري میرمنې د تمرکز میلان لري، لکه عامه سکتور، مدني ټولنه او کوچني او متوسط تشبثات. په عامه سکتور او غیردولتي ادارو کې د ښځو د کار له ممنوعیت او د کارو بار د جوازونو د بیا نوي کولو له منع کیدو سره، په ښاري سیمو کې میشتې ښځې د رسمي استخدام کم شمېر غوراوي لري.

د فرمانونو د هغه پراخ ایکوسیستم له امله چې ښځې په نښه کوي هغوي د خپلو کارو بارونو او سوداګریو په ترسره کولو کې له زیاتیدونکو نه مغلوبیدونکو خنډونو سره مخ شوي. د تګ راتګ پر آزادۍ محدودیتونه د دې لامل شوي چې ښځې د خپلو توکو د پلورلو لپاره عامه یا خصوصي ځایونو ته لاس رسي نه شي لرلای. په زیاتره سیمو کې د ښځو لپاره ځانګړي مارکیټونه تړل شوي. خوندي کاري چاپیریالونه ډېری وختونه د لاس رسي وړ نه وو. ښځو مالي پانګه، خام مواد، بنسټیز وسایل او د باور وړ بریښنا نه درلوده چې د سوداګرۍ دوام یې کمزوری کړی. سربېره پر دې، اقتصادي وضعیت نړیوالو بازارونو ته د کم شوي لاس رسي په ګډون د ښځو لپاره د ډېرو عامو، له ټولنیز پلوه د منلو وړ عاید پیدا کوونکو فعالیتونو لکه خیاطۍ او خامک تقاضا په شدید ډول راکمه کړې. د ۲۰۲۳ کال د جولای پر ۲۶ نېټه، برحاله چاراوکو پر سینګارتونونو بندیز وضع کړی چې د ښځو لپاره د عاید یو له وروستیو چینلونو او دغه راز د ټولنیزې اړیکې او ټولنې لپاره یو خوندي چاپیریال له منځه یوړ.

ښځو د خپلو معیشتونو لپاره د دوامدار ملاتړ غوښتنه وکړه او د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د ټولنې پر بنسټ د نوښتونو پر نشتوالی یې خواشیني څرګنده کړې. زیاتره پخواني نوښتونه د برحاله چاراوکو له خوا د څورونې له امله تړل شوي. هغه چې لا تر اوسه هم دوام لري زیاتره یې د ښځو له خوا پر مخ وړل کېږي او د هغوي امنیت د پام وړ خطر سره مخ دي. ښځو پر دې ټینګار وکړ چې پرته له کوم رسمي بندیز څخه کورنۍ او ګمارونکو نه غوښتل چې د احتمالي عواقبو له امله ښځو ته د کار کولو اجازه ورکړي. ځینې ښځې چې د معیشت مهارتونو لکه د یوې ارایشګرې په څېر یا په نورو هنرونو کې دکار ترسره کولو د ودې لپاره یې روزنې ته دوام ورکاوه، د برحاله چاراوکو له خوا د څورونې او تهدیدونو له امله پټې شوي. د انګلیسي ژبې د زده کړې، خیاطۍ او لاسي صنایعو، او بازار موندنې او خرڅلاو مهارتونو په اړه ځینې کورسونه – دواړه په آنلاین بڼه او حضوري ټوګه – لا اوس هم شته چې روانې سلامتیا سره مرسته وکړي. په داسې حال کې چې دغه د کوچنۍ کچې نوښتونه د ښځو – او د کورنیو د پایښت - لپاره مهم دي، دوي په نهایت کې ساختاري تبعیض نه بدلوي یا په دوامداره توګه ښځې یا د دوي کورنۍ له بې وزلۍ څخه نه وباسي.

---

[٥] ختیځه سیمه لاندې ولایتونه لري: کنړ، لغمان او ننګرهار

[٦] ملګري ملتونه. ۲۰۲۲. افغانستان: طالبان ښځو ته په کور کې د پاتې کېدو؛ او له کور څخه بهر د حجاب مراعتولو امر کوي. ۷ مۍ.

د ښځو پـر اسـتخدام مسـتقیم او غیـر مسـتقیم محدودیتونـو کورنـۍ لـه لـوړ خطـر سره مـخ کـړي، پـه ځانګـړي ډول هغـه کورنـۍ چـې ښـځینه يـې مـشري پـه غـاړه لـري. زیاترو ښـځو د فرمانونـو یـا د ټولنیزو فشـارونو لـه املـه خپلـې دنـدې لـه لاسـه ورکـړې یـا هـم د حرفـه يـي روزنـو پرېښـودو تـه اړ کـړای شـوي. انفلاسـیون د خـوړو بیـې لـوړې کـړې چـې لـه املـه يـې زیـات شـمېر ښـځې نـه شي کولـی د کورنـۍ بنسـټیزې اړتیـاوې برابـرې کـړي. د دغـو کارونـو پـه پایلـه کـې د رامنـځ تـه شـوي فشـار لـه املـه پـه کورنیـو او ټولنـو کـې د مقابلـې سـخت میکانیزمونـه رامنځتـه شـوي، لکـه پـه ماشـومانو بانـدې شـاقه کارونـه کـول، د ماشـومانو پلـورل، خیـرات ټولـول، او اجبـاري ودونـه، لـه وخـت څخـه مخکـې یـا د ماشـومتوب ودونـه ،کورنـی تاوتریخوالـی د دې پـه شـمول چـې د اوسـنیو چاراوکـو سرتیـرو تـه واده شـوې وي څـوک چـې ویـل کېـږي پـه ډېـر احتـمال سره وظیفـې لـري او د یـوې یـا څـو میرمنـو د پېرلـو تـوان لـري.[7] لـه وخـت څخـه مخکـې د انجونـو واده د اوږد مهالـه منفـي جنسـي او زېـږون اړونـد روغتیایـي پایلـو، د کـورنۍ تاوتریخـوالۍ د زیـات خطـر، د راتلونکـو زده کـړو او دعایـد د پیـدا کولـو د امکاناتـو د کـم احتـمال لامـل کېـږي.[8] دغـه کار د افغانسـتان د اوږد مهالـه پرمختـګ پـر وروسـته والـی سربېـره د ژورې او بیـن النسـلی جنسـیتی نابرابـرۍ د ترسـیخ کولـو خطـر رامنـځ تـه کـوي.

د ښـځو د وظیفـې لـه لاسـه ورکـول پـه کورونـو کـې پـه پرېکـړه کولـو کـې د هغـوی د ونـډې لـه کمیـدو سره تـړاو لـري. د هغـو ښـځو ونـډه چـې پـه کـور کـې، لـه خپلـو خپلوانـو سره، پـه ټولنـه کـې او پـه ولایتـي او مـلي کچـو د «ښـه» یـا «بشـپړ» نفـوذ درلودونکـی وې، د ۲۰۲۳ کال لـه جنـوري تـر مـارچ مـودې پـه پرتلـه د ۲۰۲۳ کال لـه اپریـل څخـه تـر جـون پـورې مـوده کـې پـه اوسـط ډول ۶ سـلنه کمـه شـوې.[9] ښـځو پـه مکـرر ډول پـر هغـه اغیـزو ټینـګار کاوه کـوم چـې د هغـوې د عایـد لـه لاسـه ورکولـو د کورنـۍ پـر اړیکواغیـزه درلـوده، لکـه پـه کورنیـو او د هغـوي پـه ټولنـو کـې د جنسـیت پـر بنسـټ د تاوتریخـوالي پـه زیاتېـدو سره.

د ښـځو اقتصـادي ځواکمنتیـا د خپلـو کورنیـو او ټولنـو پـه ملاتـړ کـې کلیـدي رول لوبولـی شـي. د هغـوي پـر آزادي د کورنـۍ د مـالي فشـارونو او محدودیتونـو سره سره، ۷۷ سـلنه ځـواب ورکوونکـو پـه ډاګـه کـړه چـې، کلـه چـې دوي عایـد درلـود هغـوي لـه خپلـې کورنـۍ بهـر نـورو خلکـو تـه د مرسـتې لاس اوږد کـړی وه. نولـس سـلنه يـې تـر پنځـو لـه زیاتـو کسـانو سره مرسـته کـړې کلـه چـې يـې عایـد درلـود. پـه دغـو مرسـتو کـې د خـوړو یـا مـالي مرسـتې برابـرول، سـلا مشـورې، د جامـو او لاسي صنایعـو ډالـۍ کـول، او د معیشـت د مهارتونـو پـه اړه د نـورو ښـځو روزنـه شـامل دي. اوس مهـال د ملاتـړ برابرولـو فرصتونـه د اقتصـادي سـتونزو او د ښـځو پـر تـګ او راتـګ او ګمارنـه د محدودیتونـو لـه املـه کمـه شـوي ده.

## بېځایه کېدنه

لـه نیمـا يـي زیاتـی (۵۳ سـلنه) ښـځې د خپـل بلوغیـت پـه ژونـد کـې لـږ تـر لـږه یـو ځـل، او ۲۴ سـلنه يـې پـه تېـرو دریـو میاشـتو کـې کوچېـدلي. اجبـاري، تکـراري او اوږد مهالـه بېځایـه کېدنـه پـه ټـول افغانسـتان کـې یـوه لـه کلیـدي اندېښـنو ګڼـل کېـږي. دغـه کار د اقتصـادي سـتونزو او د ټولنیـز ملاتـړ د شـبکو د بندیـدو لـه املـه د ښـځو زیانمـن تـوب لا زیـات کـړی. راپورونـه پـه غیـر رسـمي میشـتو ځایونـو کـې پـه ځانګـړي ډول پـه کابـل کـې د اخـراج د زیاتوالـی څرګنـدوی دي.[10] لـه امنیتـي اندېښـنو، د څښـاک اوبـو او زده کـړو پـه څېـر نـورو خدمتونـو تـه د نـه لاس رسي سربېـره کمـزوري اقتصـادي لیـد لـوري د بېځایـه کېدنـې لامـل شـوي. نـاکافي اوبـه د زیاتـره افغانانـو پـه ځانګـړي ډول پـه کلیـوالي سیمو کـې د میشـتو خلکـو لپـاره یـو جـدي خطـر ګڼـل کېـږي. ښـځې ډېـرى وختونـه د اوبـو راوړلـو مسـؤولیت لـري چـې دغـه کار دهغـوي د ځورونـې او د جنسـیت پـر بنسـټ د تاوتریخـوالي لـه ګـواښ سره مـخ کـوي، پـه ځانګـړي ډول کلـه چـې د هغـوي تـګ او راتـګ محـدود شـوی . ځینـې ښـځې لـه دې املـه د کرنیـزو چـارو تـرسره کولـو وړ نـه وې ځکـه چـې اوبـو تـه يـې لاس رسـی نـه درلـود.

بېځایـه شـوې ښـځې ښـايي د کوربـه ټولنـو د ښـځو پـه پرتلـه د اشـتغال لـوړې کچـې ولـري پـه تېـره بیـا پـه کـور ل دننـه کار کـول.[11] دا کیـدای شي د بېځایـه شـویو میرمنـو د نسـبتا خـراب اقتصـادي حالـت او لـه کـور څخـه بهـر د کار کولـو د کـم شـمېر فرصتونـو ښـکارندوی وي، او دا ښـايي د بېځایـه شـویو ښـځو اوا نجونـو لپـاره د تـګ راتـګ د پراخـو محدودیتونـو او د زیاتـو امنیتـي خطرونـو لـه املـه وي.

د ښـځو لپـاره د یـوه موقعیـت پـه مناسـب ګرځولـو کـې تـر ټولـو پیـاوړي فکتورونـه لـه نـورو ښـځو سره د راغونډیـدو او لېـدو پـه ګـډون اقتصـادي فرصتونـه، بنسـټیزو خدمتونـو تـه خونـدي لاس رسـی، او د تـګ راتـګ آزادي ګڼـل کېـږي. ډېـری میرمنـو د دې یادونـه وکـړه چـې امنیتـي پوسـتو او نظامـي اډو تـه نږدېوالـی، چـې ویـل کېـږي د اسـتوګنې پـه ځینـو سیمو کـې د زیاتېـدو پـه حـال کـې دي، د دې اساسي ملاحظـه ګڼـل کېـده چـې دوي د هغـه ځـای پـه اړه چېـرې چـې اوسـیدلې تـر کـوم حـده خوشـحاله وي. پـه سـتونزمنو حالاتـو کـې چېـرې چـې کورنـۍ د کوچېـدو پرېکـړه کـوي، ډېـری وختونـه د ښـځو خبـرې کمـې اورېـدل کېـږي – ۶۸ سـلنه میرمنـې پـر پرېکـړه کولـو کـې لیـږ یـا هیـڅ نفـوذ نلـري.

## رواني روغتیا

د ښـځو رواني روغتیـا لا اوس هـم د نـاوړه کیـدو پـه حـال کـې ده. نهـه شـپیته سـلنه خبـر ورکـړی چـې د اپریـل او جـون تـر منـځ د اضطراب/اندیښـنه،

[7] د مقابلـې منفـي میکانیزمونـه پـه وروسـتۍ کمـي او کیفـي څېـړه کـې پـه ګوتـه شـوي، د راتلونکـو هغـو پـه ګـډون: د افغانسـتان د څېړنـې او ارزونـې واحـد، ۲۰۲۲، د واک د بدلـون پرمهـال او تـر هغـه مخکـې پـه افغانسـتان کـې زیانمنتـوب؛ او پاملرنـه، ۲۰۲۲، پـه افغانسـتان کـې پـر ښـځو او نجونـو د خـوړو د ناوړیـن اغیـز- نومبر ۲۰۲۲.
[8] یونیسف. ۲۰۲۳. «د ماشوم ازدواج.»
[9] د ۲۰۲۳ کال لـه جنـوري څخـه تـر مـارچ پـورې مـودې او د ۲۰۲۳ کال لـه اپریـل څخـه تـر جـون پـورې مـودې ترمنـځ، سـلنو پـه لانـدې ډول پـه ترتیـب سره بدلـون کـړی: پـه کـور کـې، ۵۴ سـلنه؛ د خپلوانـو ترمنـځ، ۲۵ تـر ۱۶ سـلنه؛ پـه ټولنـه کـې، ۷ تـر ۴ سـلنه؛ د ولایـت پـه کچـه ۴ تـر ۲ سـلنه؛ او پـه مـلي کچـه، ۵ تـر ۲ سـلنه.
[10] دNRC . ۲۰۲۳. افغانستان: طالبان چارواکي په کابل کې له مؤقتو پنډغالو په زور بېځایه شوي کسان اوباسي. ۱۱ جولای.
[11] په یاد ولرئ چې د نمونې د حجم له امله دغه موندنه/نتیجه په احصایي توګه ممثله نه ګڼل کېږي.

انزوا اوژور خپګان احساسات د پام وړ خراب شوي، چې د تېرې ربع په پرتله ۵۷ زیاتوالی په ډاګه کوي. دغه اندازې په ځانګړي ډول په ختیځو (۹۳ سلنه) او شمال ختیځو (۸۴ سلنه) سیمو کې لوړې وې. ښځو د رواني موضوعاتو لکه ژورخپګان، بې خوبۍ، د هیلې او انګیزې له لاسه ورکول، اضطراب/اندیښنه، ویرې، تیري، انزوا او په زیاتیدونکي ډول د جلا کیدو چلند، روانی فشاراو ځان وژونې د فکرونو په اړه خبرې کړي. د اندېښنې وړ ده چې هغه میرمنې چې له کمزورې رواني روغتیا ځخه کړیږي دغه راز د کور په داخل کې زیاتره له وهلو ټکولو سره مخ کېږي. د دوي په مقابل کې لږ خواخوږي ښودل شوې ځکه چې دوي د رواني روغتیا له ستونزو سره په مخ کېدو کې «په حقه» وګڼل شي.[١٢]

سره له دې ځینې ښځې ښايي له یوه روانشناس سره سلا مشوره وکړي یا غیر رسمي مشاورې ترلاسه کړي، زیاتره هغه یې چې د مقابلې د ستراتیژۍ ګانو په څېر پر تمرین او د کور پر ورځنیو کارونو ځان مشغولولو متکي وې. نورې ستراتیژۍ ګانې لکه مطالعه او د کورنۍ او ملګرو سره ټولنیزو اړیکو ته ترجیح ورکړل شوې خو د ښځو لپاره د فضا د سخت انقباض له امله د ټولنیزو اړیکو برقرارول د لاسرسي وړ نه وو. د زده کړو فرصتونه په دوامدار ډول کم شوي ځکه چې د نړیوالو سازمانونو له خوا د ټولنې پر بنسټ زده کړې منع شوي وې او په کور کې د زده کړو نوښتونه په منظم ډول د برحاله چارواکو له خوا تړل شوي. میرمنو د ځوانو ښځو د رواني وضعیت په اړه خپلې ویرې په ډاګه کړې، چې ځینو یې د خپلو لوڼو ترمنځ د ځان وژنې د فکرونو خبرې هم وکړې.

## د ښځو او نارینه وو ترمنځ کورنۍ او ټولنیزې اړیکې

په خپلو کورنیو کې له نارینه وو سره د ښځو اړیکې د خرابېدو په حال کې دي. د ۲۰۲۳ کال د جنوري او مارچ ترمنځ د کورنۍ له نارینه غړو سره د ښځو اړیکې د ۳۹ سلنې په پرتله د ۲۰۲۳ کال د اپریل او جون ترمنځ ۴۸ سلنه خرابې شوي. اړیکې په ځانګړي ډول د هیواد په مرکزي لوړو سیمو کې (۷۴ سلنه) او ختیځو سیمو کې (۷۶ سلنه) خرابې شوي. سره له دې چې زیات شمېر ښځو احساسوله چې نارینه د هغوي په کورنیو کې د دوي لپاره مهم رواني ملاتړ برابر کړی، د ښځو حقونو د روان ناورین زیان د کورنیو اړیکو د ماتېدو لامل شوی.

کورنۍ شخړې د کورنۍ د ټولو غړو د رواني وضعیت په خرابېدو سره زیاتې شوي چې په کورنۍ کې یې د کشمکش او شخړې چاپیریال رامنځ ته کړی. له تېرې څېړنې سره په سمون کې، سلا مشورو موندلې چې کورونو کې د ښځو بندي کېدل د خپلو ماشومانو د شورماشور د زیاتېدونکي نه زغم، عصبانیت او غصې لامل شوي.[١٣] سربېره پر دې، د برحاله چارواکو دا ستراتیژي چې د ښځو د کړنو لپاره د کورنۍ نارینه غړي مسؤول ګڼي د دې لامل شوې چې ځینې نارینه د هغو حکمونو تطبیق کوونکي ګرځیدلي چې ښځې په نښه کوي، کوم څه چې په کور کې لا نور جنجال رامنځ ته کوي.

په ټولنه کې د ښځو او نارینه وو ترمنځ تعامل په زیاتېدونکي ډول نادر و. د ۲۰۲۳ کال د اپریل او جون ترمنځ د ښځو نږدې دوه پر درې برخه (۶۱ سلنه) له خپلې کورنۍ بهر له نارینه وو سره یو ځل هم نه دي لیدلي، چې د ۲۰۲۳ کال د جنوري او مارچ ترمنځ مودې په پرتله ۵۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. په ختیځه سیمه کې دغه اندازه تر ۹۴ سلنې پورې لوړه وه. د مثال په ډول، په هلمند کې ښځو په ډاګه کړې چې له کور څخه بهر له نارینه وو سره د تعامل ټولنیز خنډونه تر هېڅ پورې رسیدلي، دواړه خواوې د برحاله چارواکو له خوا له منفي عواقبو ویرېږي. له بلې خوا، په شمال ختیځو او شمالي سیمو کې، ښځو له خپلو کورنیو بهر له نارینه وو سره لږ تر لږه په اونۍ کې یو ځل لیدلي (په ترتیب سره ۲۸ او ۲۳ سلنه). په عام ډول، دغه بهیر په سیمو کې له تنوع سره سره، د ښځو او افرادو ترمنځ د دوی له کورنیو څخه بهر د تعاملاتو کمیدو ته اشاره کړې، چې د طالبانو د مخ پر زیاتیدونکي هڅو مستقیمه پایله ده چې د ښځو ژوند په کور پورې محدود کړي.

## له برحاله چارواکو سره تعامل او مدافعه

«دوي د ښځو غږ خاموش کړی؛ تاریخ به د طالبانو له خوا دغه ځپل هېر نه کړي.»- افغان ښځې، جولای ۲۰۲۳

د ۲۰۲۳ کال د اپریل او جون ترمنځ موده کې شا و خوا ۸۱ سلنه ښځو د هغوي لپاره د مهمو موضوعاتو په اړه له ځایي برحاله چارواکو سره تعامل نه دی کړی. دغه موندنه په مخکینۍ ربع کې د تعامل له کچو سره په تطابق کې وه. د مختلفو ښځو ترمنځ د تجرید/انزوا اندازه ورته وه – د بېځایه شویو او نه بېځایه شویو، او د ښاري او کلیوالي ښځو ترمنځ چې دا په ډاګه کوي چې د محدودیتونو اغیز هراړخیز او ځپونکی وه. ځینو ښځو عمدتا هغه نابریالۍ هڅې بیان کړې چې له برحاله چارواکو سره مشخصې مسلې حل کړي لکه د ښوونځیو بېرته پرانیستل، د روغتیایي پروژو لپاره د اجازې ترلاسه کول او د سوداګرۍ د جوازونو غوښتنه. ځینو ښځو ټینګار وکړ چې په ټولنه کې ځینې نارینه او نارینه مذهبي مشران د غوره پایلو په ملاتړ کې خورا مهم فعالین وو – د مثال په ډول، ښځو ته د غوږ کېدلو، له برحاله چارواکو سره په مذاکراتو کې له هغوي سره د مرستې کولو او د بدلون غوښتنو ته د نارینه وو د غړونو د اضافه کولو له لارې.

[١٢] د کډوالۍ نړیوال سازمان. ۲۰۲۳. رواني روغتیا: د ۲۰۲۱ کال له اګست راهسې په افغانستان کې د بېځایه کېدنې جریانات او ننګونې. د څېړنې لنډیز.
[١٣] د کډوالۍ نړیوال سازمان. ۲۰۲۳. رواني روغتیا: د ۲۰۲۱ کال له اګست راهسې په افغانستان کې د بېځایه کېدنې جریانات او ننګونې. د څېړنې لنډیز.

ښځو استدلال کاوه چې له هیواد څخه بهر فعالین په غوره ځای کې ځای پر ځای شوي څو د ښځو له هغو حقونو د حمایت او مدافعې چارې رهبري کړي کوم چې په افغانستان کې د ښځو د غږونو او واقعیتونو پر بنسټ بنا دي. څرنګه چې امنیتي خطرونه په افغانستان کې د ښځو د حقونو سازمانونو د مدافعې چارې محدودې کړې، هغوی له بهرنیو ادارو لکه نړیوالې ټولنې او په بهر کې افغانانو څخه غوښتنه کړې چې سره متحد شي او د افغان میرمنو د حقونو لپاره مبارزه وکړي. ښځو له بهرنیو سازمانونو څخه وغوښتل چې د هیواد په داخل کې سازمانونو سره د مدافعې د ستراتیژۍ ګانو په اړه همغږي وکړي او د اړوندو موضوعاتو لکه د شریعت له نظره د ښځو حقونو په اړه ځانګړې روزنې ترسره کړي. دوی له برحاله چارواکو سره د ښځو د حقونو د مدافعې په رهبرۍ کولو کې ملګري ملتونه د یوه تر ټولو اړین فعال په څېر وګڼلو.

له نیما یې څخه زیاتو (۵۲ سلنه) ښځو په ډاګه کړه چې نړیوال تعامل یوازې یو محدود مثبت اغېز درلود، او یو پر څلور برخې (۲۷ سلنه) یې په ډاګه کړه چې هیڅ اغېز یې نه درلود. درې شپېته سلنه هغو یې په افغانستان کې نړیوال اقدام عمدتا پر بشري مرستو متمرکز ګاڼه. سره له دې چې دا د تعامل تر ټولو اغېزناکه شکل ګڼل کېده، ښځو په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو او جنسیت د مساوات په اړه د لا زیاتو هڅو غوښتنه کړې. یوازې ۱۷ سلنه هغو د وروستي هغه شواهد لېدلي؛ یوازې ۸ سلنه هغو اغېزناک ګاڼه. دا انګېرنه چې نړیواله ټولنه د ښځو حقونو سربېره په نورو مسایلو کې ډېر سیستماتیک عمل کوي او همدارنګه د حد اقل ترسره کېدونکي تعامل محدود اغېز د ښځو حقونو ناورین ته چې د حجم له پلوه بې ساری ګڼل کېږي، په نړیوال غبرګون کې د همغږۍ نشتون په ګوته کوي. د دغه ناورین حد او شدت له نړیوالې ټولنې د ډېر څه غوښتنه کوي. مشخصې سپارښتنې لاندې په ګوته شوي.

## د طالبانو په رسمیت پېژندل

ښځو یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې د برحاله چارواکو په رسمیت پېژندنه نه باید په هیڅ ډول شرایطو کې رامنځ ته شي (۴۶ سلنه) یا یې اخطار ورکړی چې په رسمیت پېژندنه باید یوازې تر مشخصو شرایطو لاندې رامنځ ته شي چې د ښځو د حقونو په ښه کولو پورې مشروط وي (۵۰ سلنه). شایي په وروستي هغه کې د ښځو د زده کړو او اشتغال حقونو بېرته ورکول او د ټولشموله حکومت جوړول شامل وي. ښځو له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د ښځو او انجونو لپاره تر اوسنیو شرایطو لاندې په رسمیت پېژندل په پام کې و نه نیسي، ځکه دغه شرایط د زندان هغه ته ورته دي. دوی اندېښنه ښکاره کړه چې په رسمیت پېژندل به یوازې برحاله چارواکي د ښځو او انجونو په وړاندې په خپلو پالیسي ګانو او اعمالو کې لا زیاتې سختۍ ته وهڅوي. ځینو ښځو ددې وړاندیز وکړ چې په ملګرو ملتونو کې د برحاله چارواکو د استازو د رسمیت پېژندنې پر ځای یوه افغان ښځینه رهبره باید وټاکل شي چې هلته د افغان میرمنو استازیتوب وکړي. که نه نو، د افغان وګړو نیمه برخه به بې له استازیتوب څخه بې برخې پاتې شي.

## سپارښتنې

افغان ښځو په مشخص ډول له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې:

### له برحاله چارواکو سره مدافعه او تعامل

- د طالبانو پر ضد **سیاسي او اقتصادي بندیزونو ته دوام ورکړي**، د هغوی د سفر له بندیز څخه د نه معافیت په ګډون.
- د جنسیت د مساوات او د ښځو د حقونو په اړه **له طالبانو سره تعامل زیات کړي**، د پوهاوي او مدافعې په هڅو کې د ټولنې او مذهبي مشرانو د دخیلولو په ګډون.
- د ټولنیزو نظریو د بدلون او د جنډر د رجعي نورمونو د بیا راڅرګندیدو او ترسیخ پر شا تمبولو په پار **د ټولنیزو رسنیو د کمپاینونو ملاتړ وکړي.**

### سیاسي ګډون

- په شوراګانو او د ځایي حکومتولۍ په جوړښتونو کې **د ښځو د سیاسي ګډون لپاره مدافعه وکړي** او د سیاسي ګډون لپاره د ښځو پلاټفورم رامنځ ته کړي.
- **د ښځو پر حقوقي او فیزیکي ساتنې تمرکز وکړي** څو په سیاست کې ګډون وکړي او دغه راز د کورنۍ په کچه د هغوی ځواکمن کول چې پر پرېکړو کولو نفوذ زیات کړي.

### اقتصادي ځواکمنتیا

- انټرنېټ، برېښنا او د مخابراتي چینلونو (تیلفونونو، او داسې نورو) **ته د ښځو لاس رسی زیات کړي.**
- **د ښځو ته د مانع پرته د کار د حق لپاره خپله مدافعه روانه وساتي** او په هم مهاله ډول د آنلاین پلاټفورمونو له لارې د هغوی لپاره د دندو فرصتونه رامنځ ته کړي، چې هم د موجوده مهارتونو پر کارونې او لا غښتلي کولو متمرکز وي.
- د آنلاین او راډیو کورسونو او لویانو زده کړو د برابرولو، د آنلاین کتابتونونو د رامنځ ته کولو، د انټرنیټي کڅوړو او وسیلو د برابرولو،

او له هغو ښځو او د ښځو په مشرۍ له ادارو سره چې په کورونو کې نورې ښځې روزي د ملاتړ له لارې **د مهارتونو له پراختیا سره مرسته وکړي.**

- د نغدو تادیاتو او خامو موادو د برابرولو، د ښځو د کار کولو او د خپلو تولیداتو د پلورلو لپاره د خوندي چاپیریالونو د رامنځ ته کولو، او د خپلو اجناسو د پلورلو لپاره د آنلاین بازارونو د رامنځ ته کولو له لارې له **ښځینه متشبثینو سره مرسته وکړي.**
- د دې ډلېمونولو بدیلې لارې چارې مشخصې کړي چې انجونې او ښځې **د سواد او حرفه يي کورسونو ته لاس رسي** لري.

## روغتیا او خوندیتوب

- د مخامخ او/یا د آنلاین پلاټفورمونو او تیلفون له لارې، **سلا مشورې او رواني خدمتونه برابر کړي.**
- د ښځو او انجونو لپاره **نړیوال بورسونه او د کډوالۍ خوندي انتخابونه برابر کړي**، چې له هیواد څخه بهر تعلیم او کار وکړي.